# د رحمت الله درد صاحب په شاعرۍ کښې مشرقي جماليات او فني جمال

# Eastern Aesthetics and Artistic Beauty in the Poetry of Rahmatullah Dard

**Dr Muhammad Haroon***

## Abstract

*This research paper tries to analyze the influence of Eastern thinkers on the aesthetic thought in Rahmatullah Dard's poetry.*

*In the Eastern thoughts: aesthetic wonder, cultural aesthetics, beauty of colours, aesthetic sorrow and bliss, tactile sensation, sringara rasa (romantic love) and hasya rasa (comedic mirth) are included for the current study. In his artistic aesthetics: imitation, similes, assonance, consonance, alliteration, stylistic simplicity and beauty, and euphony are discussed in detail.*

Keywords: Sringara rasa, Hasya rasa, Cultural, Aesthetics, Imitation, Alliteration

فلسفه د انساني ژوند او د کائنات د پټو رازونو او حقیقتونو معلومولو زيار او لټون کوي، د انساني ژوند درې اړخونه ډېر زيات ارزښتناک دي۔ يعني فکري ، ارادي او احساسي۔ د منطق علم (Logic) د فکر معيار قائموي او د انساني ذهن او فکر ابياري کوي۔ د اخلاقيات (Ethics) فلسفه او علم د انسان د کردار معيار او دروي او ددې ابياري کوي او جماليات (Aesthetics) علم د حسن او ښکلا د تول تله، پېمانه او کسوټي ده چې د ښائست نظريې، قسمونه ، رجحانات ، کشالې او حقيقتونه په ګوته کوي۔ دغه درې واړه علمونه په ترتيب سره د انساني ژوند په دغه درې واړه اړخونو باندې په معياري نقطه نظر سره بحث کوي۔ د منطق په علم کښې د صداقت لټون کيږي او د اخلاقياتو په فلسفه کښې د خېر لټون کيږي، او د جمالياتو په علم کښې د حُسن قبح ، جلال او جمال د حقيقت برخېرنه کيږي۔

په پښتو ادب کښې د حسن او د ښکلا د نظرياتو ، افکارو او رجحاناتو انګازې په باقاعده ډول دروښاني مکتب فکر د شاعرۍ نه شروع کيږي دوي په شعوري توګه د ازلي حسن د عينيت، تصوريت،

---

* Associate Professor Govt Degree College Katlang Mardan
Higher Education Department KP, Email: mmustafaharoon59@gmail.com

وحدت او کثرت په رنګ کښې نغمې ووئيلې، خوشحال خان او د هغه د کورنۍ شاعرانو د مجازي حُسن، د فطرت او حقيقي حُسن په باب کښې خپل ابدي افکار پرېښودل، رحمان بابا او دهغهٔ عقيدتمندو شاعرانو د مجاز په پيکر او هيئت کښې د حقيقي حُسن جلوې وليدې، او عبد الحميد نازک خيال او دهغهٔ پېروکارو په رومانوي انداز کښې د فن د صوري، صوتي او معنوي حُسن و جمال ډېر زيات خيال وساتلو.

دغه ذکر شوے د کلاسيکي ادب د جمالياتو د علم کاروان ؤ۔ د هغوي دغه روايت په جديد ادب کښې حمزه شينواري ، غني خان ، اکرام الله ګران او نورو ډېرو شاعرانو ژوندے وساتلو۔ دجمالياتو په دغه ډله کښې يو د پښتو جديد غزلګو شاعر رحمت الله درد صاحب هم دے چې د پښتو ادب په سرخېله کښې ئې د جمالياتو ډېر زيات خدمت کړے دے۔

هغه په خپل فن کښې صوري او معنوي حُسن په ځلانده ډول رابرخېره کړو۔ هغه که په غزل کښې د روايت او جدت غوښتنې پوره کړې دي لکه چې وائي۔

ے هم مو غزل کښې درده خيال دے د جدت ساتلے

هم مو ساتلي دي ژوندۍ د روايت تقاضې

نو په جمالياتي افکارو کښې ئې هم د روايت او جدت د تقاضو خيال ساتلے دے۔هغه که يو خوا د مغربي دانشورانو نه اثر اخستے دے نو بل اړخ ته د مشرقي فلسفيانو سره هم په جمالياتي افکارو کښې فکري هم اهنګي او مماثلت لري۔

مونږ به په دې مقاله کښې د هغه د مشرقي افکارو لکه جمالياتي حېرت ، کلتوري ښائست، د رنګونو جمال ، جمالياتي سوز و سرور، لمسياتي کيفيات، شرينګار رس ، هاسيه رس او جمالياتي حظ و مسرت په تفصيلي توګه جائزه اخلو۔او د هغه د شاعرۍ په فني جمال کښې به په انځورګرۍ ، نادر تشبيهات، صنائع بدائع، د اسلوب ښکلا ، صوري او صوتي حسن باندې بحث کوو۔اوس به د درد صاحب په فکر ، جذبه او تخيل د مشرقي جمالياتو د اثر او غورځنګ يو څو نمونې وړاندې کړو۔

جمالياتي حېرت: **(Aesthetic Wonder)**

د ښکلا د جمالياتي تجربې په وخت چې د بنده په پنځه حواسو او عقل کومه حېرانتيا راځي نو داد ښکلا په علم کښې جمالياتي حېرت بللے شي۔ داحېرانتيا د شاهد په زړۀ کښې د نورو جمالياتي منظرونو د مشاهدې د پاره تنده زياتوي۔ د مجازي ځيزونو په مشاهده چې کوم جمالياتي حېرت پېښيږي هغه عارضي وي او د حقيقي حُسن د جمال د مشاهدې سره راغلے جمالياتي حېرت روحاني وي او د باطن د کېف و سرور ذريعه ګرځي، او په دغه حېرت يوصوفي دعرفان تر منزله رسي۔

رحمت الله درد صاحب د ښائست په جمالياتي مشاهده او ننداره کښې جمالياتي حېرت داسې محسوسوي۔

ے يار زما ليونے ميني ته حيران دے

زه د يار ليوني حسن ته حېران يم (۱)

ے خپل شناخت ته فکرو‌ړے يم حېران يم

خبر نۀ يم چې مئين يم که جانان يم(۲)

ے تصور کښې چې زه خومره ښائسته يم

ائينه کښې خپل تصوير ته پرېشان يم (۳)

کلتوري ښکلا: **(CULTURAL AESTHETICS):**

دکلتور او ثقافت نه مراد د يوې ټولنې د وګړو د ژوند د طرز او د تمدن د ښکلا وي۔ په دې کښې هغه ټول هر څه راځي د کومو نه چې ددغې ټولنې د خلقو د جمالياتي ذوق تفريحي شوق او فني مهارت او صلاحيت اندازه لګولے شي۔ ثقافت يو کُل دے په دې کښې د معاشرې او داوسيدونکو عقيدې، علمونه، د ژوند کشالې، هنرونه او فنونِ لطيفه غرض دا چې ټول ارادي اور غير ارادي کارونه په څه نه څه ډول شريک

وي په عمومي توګه فنونِ لطیفه او ارټ د ثقافت مظهر ګڼلے شي۔ درد صاحب دودونه او رسمونه د ثقافت د تاج غمي او د کلتور د جبین خالونه حسابوي۔

ے دودونه رواجونه خو ښائست وي د کلتور

مونږ ولې کړل رسمونه خپلو پښتو ته ځولنۍ (۴)

په یو بل مقام داسې د ثقافت حسن ستائي۔

ے د کلي حسن چې پرې شوخ دے درده!

هغه حجره، منګے، رباب ، غزل (۵)

د رنګونو جمال (Beauty of colours)

مختلف رنګونه لکه شین، سُور، سپین، تور، زعفراني، ارغواني او زیړ۔ په کائنات کښې د ښائست عناصر او توکي دي۔ رنګونه نظرونه ځان ته راکاږي او په زړونو د جادو په شان اثر کوي۔ هر رنګ خپل تاثیر لري۔ په دې باب کښې ښاغلے ریاض الحسن صاحب داسې وائي۔

"رنگ کے بھی زبان ہوتی ہے وہ باتیں کرتے ہیں اور آپ پر اپنا اثر ڈالتے ہیں، گلابی رنگ جذبات کو ابھارتا ہے۔ نارنجی دل کو تقویت بخشتا ہے اور سبز مفرح ہوتا ہے۔" (۶)

د سقراط نه پس د جمالیاتو دانشور سېنټ اګستائن وړومبے سړے دے چې هغه مناسب رنګ د حُسن یم اهم توکے وګرځولو۔

د پښتو په کلاسیکي شاعرۍ کښې د کاظم خان شېدا زړۀ ته پرېوتونکے رنګ شین دے۔ او د محمدي

صاحبزاده ، معزالله مهمند او پیر مطیع الله د خوښې رنګ سُور دے۔ چې د حُسن د جلالي اړخ سره تعلق لري۔ د جمالیاتي پوهانو په نزد په شین رنګ کښې جمالي خوبي زیاته وي او په سور رنګ کښې جلالي اثر ډېر وي۔ داسې معلومیږي چې رحمت الله درد هم د سور رنګ د تاثیر نه ځان نۀ دے ژغورلے۔ په هر حالت کښې ئې په زړۀ ، ذهن او شعور ددې رنګ زبردست اثر غورځېدلے دے۔ او دهغې ژوندے ثبوت دالاندیني شعرونه دي

ے سرۀ لاسونه، سرۀ اننګي، سرې شونډې

تکه سرۀ کوکې ده، ورته ګوره خو (۷)

ے په سرو سرو شونډو سرۀ سرخي لګوي

په سرو لمبو کښې سرۀ ګلونه کړي (۸)

ے تو اوربل کښې سرۀ ګلونه

شهيدان ځوړند په دار دي (۹)

د رنګونو او رڼا تعلق د ليدلو د حِس سره دے او هم دغه حس ترې خوندونه اخلي درد صاحب ښکلا او رڼا دغه اووه واړه رنګونه ګڼي چې د بوډۍ په ټال کښې په ځلانده ډول بريښي.

ے چې اوۀ رنګونه سره يوشي درده

پوه شه چې دغه د رڼا رنګ دے (۱۰)

جمالياتي سوزوسرور **(Aesthetic Pathos and Bliss)**

په مشرقي جمالياتو کښې دا مشهوره اصطلاح ده.دا د عشق هغه سوزو سرور او درد دے چې عاشق پرې د حُسن نه زيات خوندونه اخلي او په دې کښې سکون محسوسوي.په مشرقي جمالياتو کښې د جمالياتي مسرت سره جمالياتي سوز و سرور هم شته.

په دې باب کښې ثريا حسين خيل نقطه نظر داسې بيانوي.

"په شعرو ادب کښې کرون رس د خپل ارزښت په اعتبار سره دارسطو د اصول Catharsis (کيتهارسس) سره ډېر نزدے دے" (۱۱)

درد صاحب په دې کښې د مشرقي پوهانو سره همنوا دے او دغه جمالياتي سوزو سرور محسوسوي.

محبت چې بې غرضه محبت وي

په دردونو کښې ئې هم درده خوږلت وي (۱۲)

ے دا ګران به چې په خپله خومره ګران وي په ما درده

دردونه د کوم ګران چې په درمان نهٔ بدلوم (۱۳)

لمسیاتي کېفیات (Tactile Sensation) / شرینګار رس (Sringara Rasa)

د هندوستان د جمالیاتو معروف دانشور برتهمني په نقطهٔ نظر کښې "رس" د مسرت احساس او "د انبساط فلسفه" بللے شي۔ څکه رس د مشرقي جمالیاتو په باب کښې شاملولے شي۔ په ختیز ملکونو کښې د حُسن د معروضیت په ځائې ددې نه د خوند اخستو په موضوعي اړخ ډېر زور ورکړے کیږي۔

د لامسې د قوت په ذریعه د بنائست نه مزه او خوند اخستل د لمسیاتي کېفیاتو زبردسته هنداره ده۔ د شرینګار رس په حقله ثریا حسین داسې وینا کوي۔

"د شرینګار رس تړون د مینې د جذبې سره دے۔ د محبت نه ډک حرکتونه، ښکلول، د شونډو رېبدل، دوجود د اندامونو رچېدل ټول د شرینګار رس خارجي او ظاهري نخښې دي" (۱۴)

د مشرقي جمالیاتو د اثر لاندې درد صاحب د ښکلوحِسي ادراکاتو د شرینګار رس د ظاهري علاماتو نه ډکه یوه زبردسته خاکه داسې وړاندې کوي۔

ے ماچې ښکلو له ، له حیانه په شا لاړه

مالاورته ایښې شونډې نهٔ وې په رخسار پوره (۱۵)

دلته لمسیاتي کیفیات بیخي په عروج کښې دي او د شرینګار رس زبردسته منظر کشي ده۔

ے ټینګ مې ونیسې په غیږ کښې خولګۍ راکړې

کله کله خو ګلرخه انتها کړي (۱۲)

ے ستا د سرو شونډو غوټۍ به تاته ګل کړم

ته به شور کوي ضرور چې زه ئې ښکل کړم (۱۷)

ے ماخودرده ښکل کړله

هغه چې اوس څۀ کوي؟ (۱۸)

**هاسيه رس (Comedic Mirth)**

دا د "رس" يو بل قسم دے۔ دا هم د جمالياتي تجربې په راوستو کښې لوئے کردار ادا کوي په دې حقله ثرياحسين داسې ليکي۔

"خندل، ټوقې ټقالې او طنز و مزاح ملنډې کول ټول د هاسيه رس خارجي او څرګندې نخښې دي" (۱۹)

ظرافت ، ټوقې ټقالې او خوش طبعي د خندا سبب ګرځي نو په مشرقي جمالياتو کښې داهم حسن ګڼلے شي۔

درد صاحب په دې کښې هم ددغه پوهانو سره فکري يوشان والے لري۔ څکه خو وائي۔

ے خندا خوځسن په يو چند سپوا کړي

ناصح چې ولي د خندا دښمن دے۔ (۲۰)

**جمالياتي حظ و مسرت: (AESTHETIC PLEASURE AND HAPPINESS)**

د جمالياتو مشاهدې په دوران کښې چې د يوښکلي منظر يا معروض په ليدو زړۀ او روح ته کومه بې غرضه خوشحالي حاصليږي او انسان ترې خوندونه مومي نو دغه جمالياتي حظ و مسرت بللے شي۔

ډاکټر عبادت بريلوي په دې باب کښې داسې څرګندونه کوي

"د ځنې پوهانو په نقطه نظر د حسن تصور هم دغه دے چې بنده ته حظ او خوشحالي بخښي خواه که ددې قِسم او نوعيت هرڅنګه وي." (۲۱)

په مشرقي جمالياتو کښې د معروضي ښائست د مشاهدې په ځائې ددې نه د خوند اخستلو په حقله ډېر زور ورکړے کيږي.

دحسن نه د خوند اخستلو دوه لارې او ذريعې ډېرې بنيادي دي لکه باصره او سامعه

دحُسن د جمالياتي مشاهدې په دوران کښې درد صاحب کله د باصرې په ذريعه د ښکلا نه خوندونه اخلي

ے له سرو شونډو نه ئې سره ګلان دوريږي

خنده رويه ګل ورين دے زما ګُل (۲۲)

او کله د ذوقِ شميم (دخوشبويانو د ذوق) له کبله د شامې په واسطه د خوشبويانو نه مزې اخلي.

ے ټول بدن ئې د چندڼ غوندې خوشبو کړي

درده زړۀ کښې مې مکين دے زما ګل (۲۳)

د مجازي حُسن په باب کښې ددرد صاحب نقطه نظر:

د مشرقي جمالياتو درجحان مطابق کالي پټرې او ډول سنګار د ښکلو په ښائست کښې د زياتوالي سبب ګرځي. او څوک فطري ښکلاغوره حسابوي. ځکه چې فطري او ساده حُسن د مصنوعي ، بناوټې او د تکلف نه ډېر غوره وي.

ے تورې تورې زلفې ئې سنبل په ائينه کښې

کم شي حسن، کم شي يو په شل په ائينه کښې (۲۴)

ے د مصنوعي سينګار حاجت نۀ وي فطري حسن ته

تاته هم نشته د رنجو او د حنا ضرورت (۲۵)

ے ساده حسن دې ښه دے لاليه!

ستا ځهرې لره کافي دے د حيارنګ (۲۶)

درد صاحب د ټول کائنات ښائست د حضرت انسان د حُسن منت بار ګڼي.

شوخ دے چې پرې رنګ د کائنات درده

وائي چې انسان دے نور څه نشته دے (۲۷)

دنړۍ د هرې سيمې او هيواد د خلقو د جغرافيائي حالاتو او خپلو نفسياتو مطابق د حسن يو معيار ټاکلے شوے وي.

يا د خپل ځانګړي جمالياتي ذوق له کبله د وګړو تر مېنځه د حسن په خوښۍ او ناخوښۍ کښې اختلاف او تفاوت هم موندے شي.

د درد صاحب په جمالياتي ذوق چې کوم ښائست ډېر زيات اثر کړے دے دغه حُسن خو لړ وځېروۍ.

ے هم له پېرس هم له کشمير، هم له سوات نه زياته

زه او جانان چې پکښې اوسو اد دنيا ښکلې ده (۲۸)

ے خلق درده هسې ښاپيرې د کوه قاف ستائي

حسن خو دبنوں دے يا بيا د هشنغر حسن (۲۹)

د حسن او مينې د دواميت په باب د درد صاحب په کلام کښې فکري تضاد شته دے کله د ښکلا د فنا قائله شي.

ـ ګل غوندې نازبين ښکلي

اوس د خاورو ښلي دي (۳۰)

او کله ئې د دواميت او بقااعتراف وکړي

ـ دواړه نۀ لري زوال

زما مينه ستا جمال (۳۱)

ـ دا درته ځاوې چې تېريږي حسن

څه ګُل خونۀ دے چې رژيږي حسن (۳۲)

د رحمت الله درد صاحب په شاعرۍ کښې فني جمال(Artistic Aesthetics)

د فن او ارټ واضح مطلب صنعت ګري، هنر، اختراع او د خيالاتو او هيئت او د مواد تر مېنځه د تړون موجودګي او د عمل طريقې دي۔فن يو ښپړ تکے دے چې په ټولو فنون لطيفه ددې اطلاق کيږي۔خو دلته به موږ دفن نه د شاعرۍ دفن جمال او ښکلا مراد اخلو۔شاعري خودالفاظو او معنو د تناسب او حسن نوم دے۔دا خو ځانله حسنکاري ده۔د انسان ذوقِ جمال ته تسکين ورکوي او د رنګينو او لطيفو جذباتو ترجماني کوي۔دا خو واقعي چې قيمتي ملغلرې پيئلـ دي۔د انسان د اخلاقو ، تهذيب ، سيرت او ثقافت د حسن د پاره يو ښکلے پېغام وړاندے کول دي۔يو شاعر څه ښکلې وينا کړې ده

بندش الفاظ جڑنے سے نگوں کے کم نہیں

ہے شاعری بھی کام آتش مرصع ساز کا

ارسطو د تخليقي استعداد او صلاحيت اظهارته فن وائي۔د انسان د احساساتو، افکارو او جذباتو ښکلي اظهار ته فن وائي۔د انسان د ذوقِ سليم، جذبو ، شعور، تخيل او ادراک د ټولو د اطمينان د پاره د شاعرۍ نه بله موثره ذريعه نشته۔د شاعرۍ د هيئت او ماهيت ، موادو او جوړښت، داخليت او خارجيت د ټولو ترمېنځه تناسب ، اعتدال، موزونيت او هم اهنګي برقرار ساتل حسن دے۔ټول فنون لطيفه (Fine Art)مصوري ، مجسمه سازي، موسيقي او شاعري د انسان د جمالياتي ذوق ته لطف او تسکين بخښي ، ځکه چې مصوري

د کرښو د تناسب او موزونیت نه ښکلا مومي، موسیقي د راګونو، زیروبم د تناسب نه ښکلا مومي او شاعري د الفاظو ، بحر، وزن، قافیې د تناسب او اعتدال نه ښائست رابرڅیره کوي.

د رحمت الله درد صاحب په شاعرۍ کښې ترکافي حده فني جمال دے په فني جمال کښې انځور ګري او محاکات نګاري، د تشبیهاتو ښکلا ، د صنائع بدائع حسن د شاعرۍ د اسلوب دوه جمالیاتي خوبیانې پوهانو شمېرلے دي چې یو ترنم (Melody) دے او بل نغمه (Harmony) ده.

د ترنم او نغمې په جوړولو کښې ددې دریوو جمالیاتي خوبیانو تجنیس حرفي، تناغم الاصوات او السجع ډېر لوئے لاس دے. او په فني جمال کښې صوري حسن هم راځي چې په کلام کښې د سادګۍ، سلاست ، روانۍ ، آهنګ، ترنم، موسیقیت او غنائیت نه وجود مومي. په شعر کښې د څنو حرفونو د مماثلت یا د یو شان اواز ختلو په سبب صوتي حسن پیدا کیږي چې هغه په اورېدونکو ډېر خوږ لګي، په ترنم او غنائیت کښې هم صوتي حُسن موجود وي.

ددې نه علاوه حسنِ تکرار هم په فني جمال کښې راځي.

دغه بره ټولې جمالیاتي خوبیانې او د فني جمال عناصر به په ترتیب د مثالونو سره په تفصیل وړاندې کوو.

**انځور ګري، منظر نګاري، محاکات نګاري (Imitation)**

په شعر کښې ښائسته جمالیاتي منظر، ښکلې تشبیه، ښائسته نقشه یا خاکه راښکل چې هو بهو هغه منظر داسې مخې ته راشي لکه چې انسان ئې مخامخ په سترګوویني. او په سترګو کښې ئې وغړېږي. دغه شاعرانه مصوري کتونکو او لوستونکو ته خوند او مزه ورکوي.

د محاکاتو د حسن په باب کښې قاضي جمال حسین صاحب داسې وېنا کړې ده.

"د محاکات د نظریې لاندې فلسفیانو حسن د حقیقت عکاسي او نقالي ګرځولې ده. او د حقیقت په ترجمانۍ او نمائندګۍ کښې چې کوم مظهرڅومره پوره او کامل ؤ نو هغه هومره به هغه زیات ښکلے ګڼلے شي. د حسن د تخلیق په لړکښې د فنکار زیارداد ے چې هغه محاکات د کمال درجې ته اورسوي." (۳۳)

پته اولګېده چې محاکات او انځورګري هم حسن دے. رحمت الله درد صاحب د انځورګرۍ په فن کښې ماهر استاد دے. هغه د تېزې او ژورې مشاهدې خاوند دے. هغه په ډېرو حالتونو او موقعو کښې د ډېرو څیزونو داسې نقشه راښکلې ده چې هوبهو هغه تصویر لکه د یو مصور د جوړکړے شوي تصویر مخې ته اودرېږي. په

انځور ګرۍ کښې هغه د ښکلا د ډېرو اړخونو جائزه اخستې ده۔لاندینې شعرونو کښې د هغه په دې فنی جمال د پوخ مهارت اندازه ډېره په اسانه لګېدے شي۔

ے خپل اوږده بانۀ دې په مزه ځمبه

ښخې دې لشې په اننګو نۀ شي (۳۴)

ے زلفې دې سنبل، سترګې نرګس، شونډې ګلاب دي

تاته به خود ښکارې ګلستان په ائینه کښې (۳۵)

ے په سرمې بَلې لمبې یوړې خو ماحول مې روڼ که

لکه د شمعې تر سحار پورې راورسېدم (۳۶)

ے اور مې په زړۀ پورې کړو تنکې ارمان

لګې له ماشوم نه په کالۀ کښې اور (۳۷)

ے ماوې که پرق وهل سپوږمۍ له بام رابره شوله

دا خو جوړ ته یې چې خپل سردې په دیوال ایښے دے (۳۸)

ے لکه سپینې ملغلرې د رنو اوبو په تل کښې

محبت هم داسې بریښې د خوبانو په لهجه کښې (۳۹)

تشبیهات (Similes)

د رحمت الله درد شاعرۍ د تشبیهاتو یو ښکلې ګلدسته او هار لرې چې دا ټولې ملغلرې په عجیبه زړۀ راښکونکې انداز کښې پیئلے شوې دي.په شاعرۍ کښې نوې تشبیهات او استعارات استعمالول نوې نوې منظرونه ، عالمونه او حقیقتونه په نادر او عجیبه انداز کښې زمونږ د توجه او د ستائینې ورګرځوي، داټول فنې جمال اوښائست دے۔

اوس به د درد صاحب د کلام نه د نادرو تشبیهاتو یو څو نمونې وړاندې کړو۔

ے شډل حسن د مروتو په وياړو کښې

لکه ګل چې شګفته وي په ازغو کښې (۴۰)

ے ښکلي دغسې عاري دي له وفا نه

لکه نشته اتفاق په پښتنو کښې (۴۱)

ے شهاته وايئ د يوسف غوندې ارزان خرڅېږم

دادے د مصر تر بازار پورې را اورسېدم (۴۲)

ے کم ظرف د خلې غوندې سپک وي لږ هوا ئې بس وي

هغه چې لږ د واک څښتن شو نو يکسر بدل شو (۴۳)

ے خپل فطرت مې د شبنم غوندې شفاف دے

په خاطر د ګل به ولې درده بار يم (۴۴)

ے لکه د "درد" حرفونه نن ولې جداجدا يُو

لکه غنچګک چې پېوسته وو تر پرون ملګرو (۴۵)

ے د عشق اور مې په سينه کښې وهي ژبې

زما زړۀ پکښې خوشحال لکه خليل دے (۴۶)

ے د پښتون د قام وګړي

لکه زاني تار په تار دي (۴۷)

صنائع بدائع:

دا د علم بديع سره تعلق لري۔ بديع په اصطلاح کښې هغې علم ته وائي چې د کلام ښائست پرې معلومېږي۔ يعني علم بديع هغه قاعدې او اصول دي چې که چرې هغه په يو کلام کښې په کار راوستے شي نو په کلام کښې به حُسن او ښکلا پيدا شي۔ صنائع د صنعت جمع ده چې معني ئې هنر، استکاري او کاريګري

ده او د بدیع معني ده عجیبه او ښکلې۔لفظي صنعت (ښکلا) معروضي جمال دے او معنوي ښکلا موضوعي جمال دے۔

پروفیسر عابد علي عابد وائي۔

"د بدیع د تعریف نه دا اندازه کیږي چې ددغه علم قدر "حسن" دے یعني ددې مقصد دا دے چې د حسن و جمال عناصر او توکي په ګوته کړے شي او د حُسن د تخلیق طریقې اوښائي۔" (۴۸)

د هندوستان دجمالیاتو د عالمانو بهامه (۷۰۰ عیسوي) او اچاریه وامن خیال ؤ چې په کلام کښې حسن او تاثیر د صنعتونو د برمحل او مناسب استعمال سره پیدا کیږي۔

درد صاحب د صنائع بدائع، شعري محاسنو او ښکلاګانو هم خیال ساتلے دے۔اوس به د هغه د ګڼ شمېر صنعتونو نه یو څو د نمونې په ډول وړاندې کړو چې د هغه د فني جمال د دغه اړخ اندازه ترې هم اوشي۔

صنعت تدبیج: چې په شعر کښې د مختلفو رنګونو ذکر اوشي دې ته صنعت تدبیج وائي۔

ے مخونه ئې تک سپین دي، زړونه تور لکه ګناه دي

لاسونه ئې تک سرۀ لکه قصاب وینې ترې خاخي (۴۹)

صنعتِ جمع: په کلام کښې چې هر کله ډېر خیزونه د یو حکم لاندې راوستے شي۔

ے جام اوله ساقي اوله شرابونه

زړۀ به مې کړي تور، د لالي سرې شونډې (۵۰)

په دې شعر کښې جام ساقي او شراب جمع کړے شوي دي او د لالي سرې شونډې ترې غوره ګرځولے شوي دي۔

صنعت تجنیس مضارع:

د تجنیس په دواړو لفظونو کښې چې صرف د یو حرف فرق وي او هغه حروف یو بل سره قریب المخرج وي۔

ے خوب خندا دے که ارام دے

په مئین سرې حرام دے (۵۱)

په ارام او حرام کښې د "الف" او "ح" ترمېنځه فرق دے۔

صنعتِ سیاقۀ الاعداد:

چې په يو شعر کښې د شمېر يا عددونو ذکر راشي، لکه پنځه، لس، شل وغېره۔

ے په زړو کښې يونيم وي چې هر چا لره مشال شي

ډيوې وي خو د کور او د کالۀ وي ځنې خلق (۵۲)

صنعتِ تجنيس خطي:

په دې تجنيس کښې صرف د نقطو په بدلېدو يا په فرق لفظونه د يوبل نه بدل شي۔

ے نه په رندان دي نه په دار، پابندي مۀ لګوه

ليوني نۀ پېژني ډار پابندي مۀ لګوه (۵۳)

په دې کښې دار او ډار کښې تجنيس خطي دے۔

صنعت مراعات النظير:

چې په شعر کښې داسې الفاظ راشي چې د يوبل سره نۀ خو متضاد وي او نۀ مترادف وي لېکن بيا هم د يوبل سره څه نه څه مناسبت لري۔

ے غوټۍ به ګل شي او ګلونه به وړمې ونولي

هله که خاندې د سپرليو کاروبار ولاړ دے (۵۴)

صنعت لف و نشر مرتب: په کلام کښې چې وړومبے د يو څو خيزونوذکر اوشي او ورپسې د نورو خيزونو ذکر هم په هغه ترتيب وشي او دواړه د يو بل سره څه مناسبت لري لکه

ے کُوټ په اور کښې ويلي شي، زرپاتې شي

زړۀ نه هوس لاړشي ، محبت نۀ ځي (۵۵)

په دې شعر کښې د کُوټ په مناسبت هوس او زر په مناسبت محبت راغلے دے۔

صنعت فوقانیه:

چې په شعر کښې ټولې نقطې په لفظونو د پاسه راشي صنعت فوقانیه بللے شي۔

ے حاسده! ستا او زما فرق دغه دے

تاته دعا، ماته ازار ګران دے (۵۶)

صنعت تکریر مثنٰی: چې په شعر کښې يو شان جدا جدا دوه لفظونه راشي۔لکه ژړا ژړا، يا پيکه پيکه

ے چې پيکه پيکه ژوندون ؤ محبت وي نۀ جنون وي

هنګامې وي نۀ غوغا وي تا به څه محسوسوله (۵۷)

صنعت تکرير مع الوسائط: چې د تکرار ددوارو لفظونو ترمېنځه يو لفظ دواسطې په توګه راغلے وي لکه دم په دم، وار په وار۔

ے کله نه کله داسي لګي راته

کوي په مونږ حکمراني وختونه (۵۸)

صنعت ابداع:

چې په يوشعر کښې د يو نه زيات صنعتونه راشي صنعت ابداع بللے شي۔

ے ښائست د هغه ښکلي په يو رنګ نۀ پاتي کيږي

سحر بدل بدل لګي، مابښام بدل بدل (۵۹)

سحر او مابښام لفظونو کښې صنعت تضاد دے۔بدل بدل په صنعت تکرير مثنٰی دلالت کوي او "مابښام" صنعت قلب مستوي دےصنعت تجاهل عارفانه: ديوې معلومې خبرې نه سره د پوهې ځان ناجانه کول يا د څه لُطف په غرض داسي بيانول چې ګنې معلومه راته نۀ ده۔

ے خامي زما د عشق ده که خامي دې تا د حُسن

زه تا رايادومه او يادېږې راته بل څوک (۶۰)

صنعت تسمیط یا مسمط:

کله چې په یو شعر کښې د قافیې نه وړاندې درې هم وزن الفاظ راشي لکه

ے د اوبو په سرحباب دے ژوند په دشته کښې سراب دے

دم قدم مو په حساب دے خلق ولې نۀ پوهیږي (۲۱)

په دې شعر کښې حباب، سراب او حساب درې واړه الفاظ هم وزن دي۔

صنعت ترصیع: چې کله د یوشعر په دواړه مصرعو کښې اکثر لفظونه هم وزن او هم قافیه راوړے شي لکه

ے کله کله پناه واخلم ستا د سترګو مېکدو کښې

کله کله سکون غواړم ستا د زلفو په تیارو کښې (۲۲)

صنعت ارسال المثل: په شعر کښې د متل استعمالولو ته وئیلے شي۔

متل دے "نمر په ګوته نۀ پټیږي"

په شعر کښې ددې متل استعمال وځېروئ۔

ے نمر په ګوته له دنیا پټیږي نه

د فرېب کوټه سکه چلیږي نه (۲۳)

متل دے "سترګې په بڼو نۀ درنیږي"

ددې متل استعمال ته فکر وکړئ۔

ے که د ګل پېغور خوک راکړه پروا نشته

درده! سترګې په بڼو درنیږي نه (۲۴)

د اسلوب حُسن: **(Artistic Aesthetics)**

اچاریه ډنډي(۹۰۰ عیسوي) د جمالیاتو عالم "اسلوب بیان" د کلام د حُسن سبب ګرځولے دے۔ د تحریر او لیک د انداز دوه جمالي صفات دي۔

۱۔ ترنم (Melody) ۲۔ نغمه (Harmony)

ترنم او نغمه د ځنې ټکو او تورو د مناسب استعمال او ځنو ټکو او لفظونو د تکرار سره وجود مومي۔

۱۔ کوم صحیح توري چې د الفاظو په اخر یا مېنځ کښې یو شان راشي هغې ته تناغم الاصوات (Consonance) وئیلے شي۔

۲۔ په شعر کښې چې د الفاظو په مېنځ کښې کله د علت توري راشي نو دې ته السجع (Assonance) وائي۔

۳۔ په شعر کښې چې د الفاظو په وړومبي سر کښې کوم صحیح توري یو شان راشي او یا یو شان اواز ورکوي نو دې ته تجنیس حرفي (Alliteration) وئیلے شي۔

که تناغم الاصوات دے ، السجع ده او یا تجنیس حرفي دے دا ټول په شاعرۍ کښې د فني جمال سبب ګرځي۔

درد صاحب ددغه زاویې نه هم د فني جمال ښه خیال ساتلے دے۔

د تناغم الاصوات (Consonance) یو شعر د مثال په ډول وړاندې کېږي۔

ـه جانان مې ځان دے خو جانان دومره ارزان نۀ غواړم

په زیارتونو محبت زه د جانان نۀ غواړم (۲۵)

د "السجع" د فني ښکلا نمونه وګېروئ۔

ـه تور خو درده تور وي څومره خوند کوي

توري زلفې توري سترګې تور بانۀ (۲۶)

اوس به د تجنیس حرفي نه یو څو نمونې وړاندې کړو۔ چې په فني جمال کښې ددې سره صوتي حُسن او څومره موسیقیت پیدا کیږي۔

ے زلفو او د سر سودا ده سرپه سر

مۀ کوه سودا درده ارزاني دي (۲۷)

په دې کښې سر، سودا ، سر په تجنيس حرفي دلالت کوي

ے درده له مانه تبصره چې په حالاتو غواړې

زه ورته زر زر د زندان د دار تصوير جوړکړم (۲۸)

په دې کښې زه، زرزر، او زندان درې واړه لفظونه په تجنيس حرفي کښې شمېرلے شي۔

ے سپوږمۍ شوه سترې ، ستورې هم اودۀ شول

خو د هجران د شپې سحر نۀ راځي (۲۹)

سپوږمۍ ، سترې، ستورې د تجنيس حرفي ښکلې نمونه ده۔شوه ،شول او شپې د تجنيس حرفي دوئم روښانه مثال دے دغه واړه توکي د شعر په ترنم او موسيقيت کښې لوئے کردار ادا کوي۔

صوري حُسن:۔

دا حسن د فن او کلام د الفاظو د ترکيب ، جوړښت او موزونيت سره تړون لري۔په دې کښې ځانله بيا دوه قسمه حسن دے۔يو قسم ته سادګي، سلاست رواني وئيلے شي او دويم قسم ترنم، موسيقيت او غنائيت بللے شي۔ سادګي د کلام يو اضافي صفت دے دا د کلام هغه خوبي ده چې د هغې په وجه هر قسم مضمون په شعر کښې بيان شوے وي۔ډېر زر او بغېر د څه تکليف نه زړۀ او ذهن ته پرېوځي۔په کلام کښې کړلېچ او اړوپېچ نۀ پيدا کوي ځکه پرې دهرې طبقې خلق يو شان پوهېږي۔لوئے نه لوئے مضمون او کړلېچن نه کړلېچن خيال په ساده ، عام فهمه طريقه څرګندول د ګران پېچيده، متروک او ناآشنا (نامانوس) الفاظو نه ډېره کول د کلام حُسن دے او داد شاعرۍ کمال دے۔

سادګي:(Stylistic Simplicity)

وړومبے به د درد صاحب په شاعرۍ کښې د سادګۍ سلاست او روانۍ د خوبۍ نه ډک شعرونه وړاندې کړو چې فني جمال ئې برخېره شي او دا حقيقت دے چې په سادګۍ کښې وقار ، متانت، فطري ښکلا او زړۀ راښکون وي۔

درد صاحب ته د خپل کلام د دغه صفاتو په خپل احساس شوے ؤ.

ے روانې ده نغمګي ده سادګي ده

ورکوي د درد غزل ته د ښکلا رنګ (۷۰)

په ډېرو غزلو کښې ئې بې حده رواني ده، د ساده الفاظو سره سادګي د فصاحت او بلاغت معيار اوچتوي د سادګۍ په لحاظ ئې ډېر شعرونه د "سهل ممتنع" په معيار پوره خېژي. يو څونمونې ئې وګورئ.

ے حُسن دے شوخي ده ادا ګاني دي

يار نه مې چاپېره قلا ګاني دي (۷۱)

ے وائي به يو څه مطلب ئې بل څه وي

سترګې دلالي مې شاعراني دي (۷۲)

ے راځه چې په دعا کښې يو له بل سره په ضد شو

ته ماله خدايه غواړه، زه به تا خدايه غواړم (۷۳)

ے قرار پسې مو هسې بېقراره زندګي کړه

د عقل په رڼا کښې مو بې لاره زندګي کړه (۷۴)

ترنم (Euphony) او موسيقيت:

د الفاظو په ښکلا کښې صوتي حسن راځي دا دالفاظو د روانۍ ، اهنګ، ترنم او مانوسيت نه پيدا کيږي ځکه خو نغمه او ترنم دوه جمالي خوبيانې دي. موسيقيت په خبرو اترو کښې ، په کلام کښې د ساز هغه خوند دے چې د الفاظو موزونيت او روانۍ له کبله پيدا کيږي او اورېدونکے ئې لکه د ساز محسوسوي.

په لانديني شعرونو کښې ئې څومره زبردست موسيقيت او ترنم دے.

ے بانۀ دي نور اورېدۀ شه نور درانۀ شه نور تېرۀ شه

خو ستا بېرو سترګو ته حيا له خدايه غواړم (۷۵)

ے نه مې چل زده نه مې ول زده نه مې بل داسې اټکل زده

د چا زړۀ ته چې نزدې شوم محبت زما منتر دے (۷۶)

ے چې پيدا چرته لالچ دمال و زر شي

مور مېره شي ، ورور تربور شي، پلار پلندر شي (۷۷)

ے دانه دانه کړې زلفې په سپين مخ کله ول ول

لېلى غوروې درده راته دام بدل بدل (۷۸)

ے په رښتيا زماجانان دے په ما ګران دے

په ماګران دے په ماګران دے په ماګران دے (۷۹)

دې غزل کښې خومره زبردست غنائيت او موسيقيت موجود دے

ے ګل کړې وعده ده چې رښتيا به شي که نۀ به شي

څۀ وائې زړګيه چې وفا به شي که نۀ به شي

ے غواړمه چې مينه محبت په زړونو راج وکړي

ګورو چې قبوله دا دعا به شي که نۀ به شي (۸۰)

او په دې غزل کښې خو بې انتها درجه سلاست او نغمګي ده.

ے يوزه نۀ يم چې سوزم د هجران په سرو لمبو کښې

زما د پاره سوزي مې جانان په سرو لمبو کښې

ے اے عشقه تا دلاسه داسې اور راباندې بل دے

ققنس شومه سوزېږم د خپل ځان په سرولمبو کښې (۸۱)

(تر آخره)

صوتي حسن:

د يو حرف (توري) صوتي تکرار صوتي ښکلا جوړوي۔ کله کله حرفونه د يو بل نه جدا وي خو اواز ئې يو شان وي او صوتي حُسن پېدا کوي۔ دا په قوت سامعه ډېر خوږ لګي۔ دغه صوتي اثر د شعر د مجموعي ښائست سبب ګرځي۔

د پښتو د کلاسيکي شاعرانو نه علاوه په نوو شاعرانو کښې درد صاحب هم په فني جمال کښې په خپل کلام کښې صوتي حسن له ځائے ورکړے دے۔

لاندينې شعرونه د صوتي ښکلا او اهنګ په زړۀ پورې مثالونه دي۔

ے توره تياره شپه شوله راکوزه دفراق په بام

درده د ښو په خوکو ستورې بلوې که نه (۸۲)

په پورته شعر کښې د "ت" "ش"، "خ" او "س" حروفونو ځومره زبردست صوتي حسن پېدا کړے دے۔

ے سحر سبا چې خوک چمن ته راغے

د خهرې رنګ له هر يو ګله لاړو (۸۳)

په بره شعر کښې د "س" او "خ" تکرار د صوتي حسن اثر ته دوام بخښلے دے۔ يا دا لاندينے شعر د صوتي حسن يو زبردست شاهکار تصوير وړاندې کوي۔

ے په دا سبب چې سبا تاته هم پېغور درنۀ کړي

ستاله کوڅې راستنيدل څه اسان کار خونۀ ؤ (۸۴)

او په دې کښې ځومره زبردست صوتي تاثير په نظر راځي

ے مال و زر ځان و ځيګر ترې نه قربان شه

چې په هر قيمت ارزان دے په ما ګران دے (۸۵)

حُسنِ تکرار:

په شعر کښې د يو لفظ بيا بيا په تکرار سره ښکلي استعمال ته په ادبي اصطلاح کښې "حُسن تکرار" وائي۔ او دا په شعر کښې ترنم او موسيقيت پېدا کوي۔ داهم فني جمال او ښائست دے۔

د درد صاحب په کلام کښې په ګڼ شمېر د "حسن تکرار" مثالونه شته خو مونږ به ترې دلته د مشت نمونه خروار په مصداق يو څو شعرونه وځيروو۔

هغه ګل، هغه سپرلے ، هغه چمن دے

خو بس ماته بدل ښکاري دهوا رنګ (۸۶)

ے ګل غواړي ورږمه غواړي غوټۍ غواړي ثمر غواړي

دا مزې چې غواړې نو سپرلو ته لاره مۀ تړه (۸۷)

ے د درد د برخې ټول سکون دې تا نصيب شه ګُله!

ددرد په درد باندې دې ته نۀ شې درد مندلاليه (۸۸)

ے په محبت کښې هم زه درده د توحيد قائل يم

زما يو زړۀ دے په يو زړۀ کښې يو نګار ساتمه (۸۹)

حوالي


۱۔ درد رحمت الله ، د درد کليات، منګل کتاب کور محله جنګي پېښور مارچ ۲۰۱۹ صفحه نمبر ۳۵۵

۲۔ هم دغه اثر ۴۵۶

۳۔ هم دغه اثر ۴۵۶

۴۔ هم دغه اثر ۴۴۹

۵۔ هم دغه اثر ۵۱۲

۶۔ رياض الحسن فلسفه جمال، ناشر هندوستانی اکیڈیمی یوپی آلہ آباد 1935 صفحہ 17

۷۔ د درد کليات ، ۲۲۱

۸۔ هم دغه اثر ۱۲۲

۹۔ هم دغه اثر ۴۲۳

۱۰۔ هم دغه اثر ۴۴۱

۱۱۔ پروفیسر ثریا حسین جمالیات شرق وغرب ، ایجوکیشن بک ہاؤس مسلم یونیورسٹی مارکیٹ علی گڑھ 1983ء۔صفحہ ۲۵

۱۲۔ د درد کلیات ۲۷۲

۱۳۔ هم دغه اثر ۲۸۹

۱۴۔ جمالیات شرق و غرب صفحه ۲۴

۱۵۔ د درد کلیات ۳۳۷

۱۲۔ هم دغه اثر ۳۷۱

۱۷۔ هم دغه اثر۵۳۴

۱۸۔ هم دغه اثر۵۴۴

۱۹۔ جمالیات شرق و غرب ۲۴

۲۰۔ د درد کلیات ۴۳۸

۲۱۔ ڈاکٹر عبادت بریلوی ، اردو تنقید کا ارتقاء ، انجمن پریس نشتر روڈ کراچی اشاعت سوم 80-1979 صفحه ۲۹

۲۲۔ د درد کلیات ۴۸۳

۲۳۔ هم دغه اثر۴۸۳

۲۴۔ هم دغه اثر ۲۰۰

۲۵۔ هم دغه اثر۲۷۱

۲۲۔ هم دغه اثر۴۸۹

۲۷۔ هم دغه اثر۴۷۸

۲۸۔ هم دغه اثر۵۰۹

۲۹. هم دغه اثر ۲۴

۳۰. هم دغه اثر ۴۵۰

۳۱. هم دغه اثر ۴۵۵

۳۲. هم دغه اثر ۱۷۲

۳۳. قاضي جمال حسين، جماليات اور اردو شاعری، عکس پبلیکیشن بک سٹریٹ، داتا دربار مارکیٹ لاہور ۲۰۱۹ صفحه ۴۴

۳۴. د درد کلیات ۵

۳۵. هم دغه اثر ۹

۳۶. هم دغه اثر ۱۹

۳۷. هم دغه اثر ۲۸

۳۸. هم دغه اثر ۱۳۳

۳۹. هم دغه اثر ۱۷۲

۴۰. هم دغه اثر ۷

۴۱. هم دغه اثر ۸

۴۲. هم دغه اثر ۹

۴۳. هم دغه اثر ۱۸۷

۴۴. هم دغه اثر ۲۰۴

۴۵. هم دغه اثر ۳۲۹

۴۶. هم دغه اثر ۳۵۲

۴۷. هم دغه اثر ۴۲۳

۴۸. عابد ، سید عابد علی ، اصول انتقاد ادبیات ناشر سید امتیاز علی تاج ، مجلس ترقی ادب لاہور اشاعت دوم ۱۹۲۲ صفحه ۲۲۵

۴۹. د درد کلیات ۱۹۳

۵۰. هم دغه اثر ۲۲

۵۱. هم دغه اثر ۳۳۲

۵۲. هم دغه اثر ۳۲

۵۳. هم دغه اثر ۲۰۲

۵۴. هم دغه اثر ۴۸

۵۵. هم دغه اثر ۵۴

۵۶. هم دغه اثر ۲۰۸

۵۷. هم دغه اثر ۳۳۰

۵۸. هم دغه اثر ۴۰۰

۵۹. هم دغه اثر ۱۹۴

۶۰. هم دغه اثر ۹۴

۶۱. هم دغه اثر ۳۱۵

۶۲. هم دغه اثر ۳۵۸

۶۳. هم دغه اثر ۴۲۲

۶۴. هم دغه اثر ۴۲۲

۶۵. هم دغه اثر ۵۳۲

۶۶. هم دغه اثر ۳۷۲

۶۷. هم دغه اثر ۱۸۱

۶۸. هم دغه اثر ۴۵۴

۶۹. هم دغه اثر ۵۱۱

۷۰. هم دغه اثر ۴۸۹

۷۱۔ هم دغه اثر ۱۸۱

۷۲۔ هم دغه اثر ۱۸۱

۷۳۔ هم دغه اثر ۱۸۲

۷۴۔ هم دغه اثر ۱۸۸

۷۵۔ هم دغه اثر ۱۸۲

۷۶۔ هم دغه اثر ۳۸۸

۷۷۔ هم دغه اثر ۱۷۵

۷۸۔ هم دغه اثر ۱۹۴

۷۹۔ هم دغه اثر ۴۰۷

۸۰۔ هم دغه اثر ۴۱۷

۸۱۔ هم دغه اثر ۴۲۵

۸۲۔ هم دغه اثر ۴۷۱

۸۳۔ هم دغه اثر ۴۷۳

۸۴۔ هم دغه اثر ۴۸۰

۸۵۔ هم دغه اثر ۴۰۷

۸۶۔ هم دغه اثر ۴۸۸

۸۷۔ هم دغه اثر ۴۸۲

۸۸۔ هم دغه اثر ۴۸۵

۸۹۔ هم دغه اثر ۵۳۲

Pukhtunkhwa Journal